په افغانستان
کې د کاناډا ماموریت
www.afghanistan.gc.ca






# سیمه ایزه دیپلوماسي

## د ښو اړیکو د جوړولو لپاره مرسته



د افغانستان او پاکستان سرحد د ویش/چمن پولې د دوستۍ په دروازه کې د خلکو او لاروی کتار.

© Courtesy of the Hindara Media and Cultural Foundation / Ubaidullah

افغانستان د هغه د ګاونډیو هېوادونو نه نشو بېلولای. د ښو اړیکو درلودل او د سرحدونو ښه کنټرولول، په افغانستان کې د ټیکاو او امنیت لپاره خورا ارزښتناک دي او همداراز د دې هېواد د اوږد مهالې اقتصادي ودې لپاره اړین ګڼل کېږي.

### سیمه ایزه ښکېلا

د افغانستان په اړه د کاناډا سیمه ایزه دیپلوماسي یوه داسې جامع تګلاره ده چې د افغانستان د پېچلې جغرافیایی، سیاسي او اقتصادي اړخونو په پام کې نیولو سره ټاکل شوی. زمونږ د پخوانیو لاس ته راوړنو په دوام، کاناډا به د افغانستان او پاکستان تر منځ خبرواترو ته لاره هواره کړي او پراخې هڅې به ترسره کړي ترڅو د دې دوو هېوادونو تر منځ اړیکې سمون ومومي.

د ۲۰۱۱ نه تر ۲۰۱۴ کاله پورې، کاناډا به د لاندې پروژو سره مرسته وکړي: د ګډې روزنې تمرینات، د قانون د پلي کولو په برخه کې د استخباراتي معلوماتو شریکول، د روږدو کسانو د درملنې لپاره د متخصصینو همکاري او د سرحدي اړیکو ددفترونو پرانیستل.

### د افغانستان او پاکستان په منځ کې د همکارۍ بهیر

د ۲۰۰۷ لمریز کال راپدې خوا، کاناډا د افغانستان او پاکستان ترمنځ د همکارۍ بهیر ملاتړ کړی دی (چې پخوا د دوبۍ د بهیر په نوم یادیده) دا هغه مهم میکانیزم دی چې د افغانستان او پاکستان د سرحد د کنټرول په اړه پکې خبرې اترې ترسره کیږی. د افغانستان او پاکستان ترمنځ د همکارۍ د بهیر له لارې، د کاناډا هېواد د افغانستان او پاکستان سرحدي چارواکي سره یو ځای کوي تر څو د دې دوو هېوادونو تر منځ د سرحدي همکارۍ په اړه د یو بل سره خبرې وکړي.

د ۲۰۱۱ نه تر ۲۰۱۴ کاله پورې، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د همکارۍ بهیر به په سیمه ایزه دیپلوماسي کې د کاناډا هېواد د ښکېلاو مهمه څنډه وي، دا کار به د دریو لاندې مهمو پروژو له لارې ترسره شي:

- د سرحد نه د تېرېدو په مهمو برخو کې د بنسټېزو جوړښتونو سمون؛
- د سر حدونو د کنټرول لپاره د مناسبو سیستمون کارول او په دې اړه روزنه ورکول؛ او
- د ډیالوګ یا خبرواترو او د معلوماتو د شریکولو د میکانیزمونو بنسټېز کول.